پاچا ۲۰۱۱/۱۰/۲۰

# د افغانستان څخه د وتلو لار!

(The way out of Afghanistan)

دا عنوان د امریکا په یوی عسکری مجله کی چی د (Military Review) په نوم یادیږي د ښاغلی بنګ ویسټ (Bing West)په قلم چی د امریکا د دفاع وزارت پخوانی مرستیال او پلی جنګی ځواکونو کی یی کار کوو د۲۰۱۱ کال د مارچ- آپریل په ګڼه کی خپور شویدی. بنګ ویسټ له دوو کلونو څخه زیات ځو ځلی په افغانستان کی د امریکایی ځواکونو سره د جنګ په مقدمو جبهوکی کارکړی دی. مخکی له دی چی ددغی مقالی ژباړی ته راشم، د افغانستان تاریخ ته یوځغلند نظر اچوم.

یو مشهور متل دی چی وایی "*په خر سپرېدل یو شرم او کوزېدل یی بل شرم*".

که چیری د افغانستان پخوانی او اوسنی تاریخي پاڼي ویلټو نو ښکاره به شی چی د سکندر مقدونی څخه رانیولی د چنګیز خان تاړاکونه د ایرانیانو مذهبی او ژبنیز تعصبونه، د انګریزانو یرغلونه، د روسانو بربنډ تیری او تر اوسنی غمیزی پوری چی د اوه څلویښتو (۴۷) په شا و خوا کی د نړی جګړیز او په عصري وسلو سمبالو هیوادونو زمونږ په پاکه خاوره نا جایزه او د شرمه ډک یرغلونه کړي، ددغوټولو یرغلګرو هیوادونو یواځیني موخه د افغانستان ښکیلاک وو. په لمړی ځل دغه یرغلګرپه ډیره خوشالي زمونږ پاکی خاوری ته راغلل خو کله چی د افغانانو اوپه ځانګړی ډول د پښتنود مقاومت سره مخامخ شول نو بیا ورڅخه لار ورکه شوه او په دی یی فکر کوو چی څنګه ددی خاوری څخه خپل ځواکونه اوباسی. کله کله داسی هم پیښ شویدي چی یرغلګرو ځواکونو د ځینو خاینو عناصرو سره لاس یو کړی چی د وتلو لار ورته برابره او د چا خبره چی د اوړو پزه ورته جوړه کړی. . دا معامله د پرچمیانو او ځینو نورو وطن پلورونکو لخوا چی په سر کی یی د جمعیت اسلامی ګوند چی مشر یی ربانی وو اود شورای نظار د تجزیه طلبی او منفوری ډلی مشر قوماندان مسعود پنجشیری لخوا کیدله د پخوانی شوروی اتحاد د یرغلګرو ځواکونو لپاره د وتلو لاره مساعده کړل شوه. زه نور تفصیل ورکول نه غواړم ځکه چی تاسو ګران هیوادوال د افغانستان د تاریخ نه پوره خبر یاست.اوس به د ښاغلی بنګ ویست د لیکني ترجمی ته چی د مقالی سر لیک یی " د افغانستان څخه د وتلو لار" نومیږی، ستاسو پاملرنه راوګرځوم. اوس دا تاسو او دا د *بنګ ویسټ* لیکنه.

"**مونږ یوه ستونزه لرو**. زمونږ د ترهګری ضد ځواکونو پالیسی جوړونکي وایی چی " د عسکرو او میرین عسکروڅخه غوښتنه داده چی دوي باید ملت جوړونکي او جنګ کوونکي وي" خو مونږ په لسو کلونوکی و نشو کولی چی یو افغان ملت جوړ کړو، دغه هڅي بلی خوا ته وګرځول شوي او د عسکرو ذهنیت یی کمزوری کړ.

متحده ایالاتو ددي لپاره په افغانستان یرغل وکړ چی د القاعده ځاله ورانه کړی، خو القاعده او طالبان د پولی نه آخوا پاکستان ته واوښتل.په ځای ددي چی هغوي تعقیب کړی، امریکا په افغانستان کی په دی موخه پاتی شوه چی یو ځواکمن دموکراتیک ملت جوړ او د ترهګرو د راتګ مخنیوی وکړی.

دامریکا متحده ایالت چی د ملګرو ملتونو په کنسرت کی هنر مندی کوی، په ۲۰۰۲ کی یی حامد کرزی چی یوه سیاسی څیره او د پښتنو د معتبری کورنی څخه دی د افغانساتان د رهبری لپاره غوره کړ. همدغه راز متحده ایالاتو د افغنستان د اساسی قانون د جوړولو لار هواره کره او کرزی ته یی پوره واک ورکړچی د ولایاتو ټول والیان مقرر کړي. په مقابل کی کرزی خپل آنډیوالان او قومی خپلوان په دغه مقامونو وګمارل.

بده یی لا دا وه چی متحده ایالاتو کرزی ته بشپړ واک ورکړ چی د پوځ او پولیسو مقامات وټاکی. دغسی نو د قوماندی پوستونه چیرته چی د تنخا ګانو او سیاسی *اړیکو* ضرورت لیدل کیده ټول لیلام شول. ددی کار نتیجه فساد اوپه کار د غیر مسلکی خلکو ګمارل وو چی طالبانو د هیواد او کابل په ختیځ او سهیل کی بیا سر راپورته کړ.

کله چی ولسمشر اوباما قدرت ته ورسید نو افغانستان د کنټرول څخه وتلی وو. اوباما د پاکستان سره خپلی ملګرتیا ته زیاتوالی ورکړ، د امریکایی عسکرو شمیره یی یو لک (۱۰۰،۰۰۰) ته لوړه کره او ژمنه یی وکره چی د عسکرو راایستل به د ۲۰۱۱ کال په نیمایی کی پیل کړي. دده (اوباما) په دوه کلنه دوره کی دری امریکایی جنرالانو د افغانستان قوماندہ په لاس کی واخسته، د متحده ایالاتو ستراتیژی د خلکو په ساتنه راټوله شوه، پاکستان طالبانو ته په پناه ورکولو ادامه ورکړه او کرزی بی اعتباره او ښوییدونکی ثابت شو.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**مونږ اوس چيرې يو؟**
راځي چې د دشمنانو څخه يې پيل کړو. د پاکستان په ١٤٠٠ ميله پوله کی سره ددي چې امريکايان په درنو وسلواو تجهيزاتو پوره سمبال دي طالبان په بشپړ ډول ازاد ګرځي. طالبان د افغانستان په شمالی (قطبی) وړو درو کی د ځينو وړو قبيلود ملاتړ څخه برخمن دي او په سهيل کی د مخدره موادو په کاروبار کی برخه لری اود کوکنارو کروندګرو ته خبرداری ورکوی چې حکومت به ددغو کروندو په له منځه وړلو سره ستاسو ژوند خراب کړی. په عمومی ډول ځينی پښتانه يې طرفدار او ځينی يې مخالف دي، او ځينی نور يې د امريکايانو سره په ملګرتيا کی زړه نا زړه دي چې په دی صورت کی د هغوي ژوند د جنګ د خطر سره مخامخ کيدونکی دی.

د کفارو په مقابل کی جهاد د طالبانو يو قوی چيغه ده. په افغانستان کی څلور اتيا سلنه (فيصده) خلک مسلمانان دي. دا مذهبی مفکوره ده چې د اسلامی عقايدو په نظر کی نيولو سره د اداری يوه اساسی لار ده، خو د کابل حکومت د اسلام په ساتلو کی پاتی راغلی دی او په کليوالو سيمو کی ملايان د طالبانو طرفداران دي. بده يې لا دا چې طالبان، د مخدره موادو قاچاقبران او په کليوالی سيمو کی زياتره افغانان په ګډه سره د نړی ٩٥ سلنه (٩٥٪) هيروين برابروی.

د طالبانو تکره توب ددوي اسلامی جذبه او پټنځايونه دي. پاکستان په دي ګروهه (عقيده) دځينو طالب ډلګيو ملاتړ کوی که چيری متحده ايالات جنګ پريږدی نو په دی صورت کی به سر زوري (افراطي) بيا قدرت تر لاسه کړي. تر هغه چې د پاکستان خاروه ددوي لپاره د پټيدو ځای وی نو جنګ به هيڅکله پای ته ونه رسيږی.
د طالبانو لوژستکي کمزورتياوي سوليدلی رسی ته ورته دي او د عامو خلکوپه منځ کی يی خپل اعتبار له لاسه ورکړيدی. هغوي چې په ١٩٩٠ کلنو کی يی د طالبانو د کنټرول لاندی ژوند کړيدی، زيات يی پښتانه وو، هغوي (پښتنو) طالبان نه بلکه اسلامی اساسات خوښول. هر کال به طالبانو پخپل عسکری ځواک او جلب و جذب کی زياتوالی راوسته خو د خاوری په نيولو کی يی کوم د پام وړ ملاتړ تر لاسه نه کړی شو.
په حقيقت کی يوه خوا هم ګټونکی نه ده. له يو اړخه د متحده ايالاتو کموالی په دی کی دی چې د زرګونو کليوالی وګړو ژوند ژغوری، د افغان امنيتی ځواکونو نيمګړتيا داده چې خپل باور يی له لاسه ورکړيدی او طالبان د امريکايی ځواک د بمباری له امله نه شی کولی چې پخپلو ځواکونو کی زياتوالی راولی. طالبان په دی باور دي کله چې امريکايی ځواکونه واووځي نو ليری پرتي ولسوالي به يو بل پسی ددوي په لاس کی پريوځي.
**زمونږ عسکری ستراتيژی څه ده؟**
د دشمن په مقابل کی د ٤٧ هيوادونو ائتلافی ځواکونه سمبال ولاړ دي. ځيني هيوادونه يواځی سمبوليکی سياسی مرستي کوی. فرانسويان، هالينډيان،کاناډايان، استراليايان او برتانويان په جګړه کی ښکيل دي، خو په دی سټيج باندی زياتره امريکايان او افغان ځواکونه دي چې د يو بل سره خوا په خوا او يا يو قدم وړاندی وروسته خپلی جنګی هڅي پر مخ بيايي.
د ائيتلاف او ترهګرۍ ضد ځواکونو ستراتيژی "د خلکو ژغورنه او خدمت" دی. په مقابل کی د خلکو څخه غوښتنه داده چې د ترهګرو سره خپلی اړيکي وشلوي. د هغه ټولنيز قرارداد په اساس چې د يوی کتابچی په ډول د نظامی دوکتورينو لخوا په ٢٠٠٦کال کی د *ترهګرۍ ضد* تر عنوان لاندی د متحده ايالاتو د اردو او ميرين پوځ لخوا جوړ شوی وود مراعت وړ دی.
د دفاع وزير ګيتس ملت جوړولو ته خپله ژمنتيا وښوده. "ګيټس" په ٢٠٠٨ کال کی د ملی اردو د پوهنتون زده کوونکو ته وويل " هر چيری چې کيدی شی خوځنده عمليات بايد په ټيټه درجه وی چې ښه اداره په لاره واچول شی او اقتصادی پروګرامونو ته پراختيا ورکړل شی او هم بايد د ناراضيانو مشکلاتو ته ځواب وويل شی.... " ترهګريز ضد ټولنيز خدمات، اداره، اقتصاد، د مشکلاتو حل- په لويه کی زمونږ د ځواکونود سوله ايزو کارونو جلبول. دا به زمونږ د عسکرو لپاره يوه روښانه لاره هواره کړی چې د ترهګرو پرضد ښه وجنګيږی.

د ترهګرۍ د روښانولو د تصديق او پرمختګ لپاره په ټولنيزو وسايلو کی د ځينو پوځی صاحبمنصبانو دعلمی نظريوپه خاطر چې په کتابونو، مقالو او ټولنيزو وسايلو کی يی د خپلو ځانونو ځلولواو خوشالولو لپاره بی کچه لاپی شاپی په کار اچولی دي. د عسکری ځواکونو قوماندانود مجلسونو او غونډوپه مهال يوه څلوريزه (چاربيته) سندره ياده کړيده چې وايی امنيت، پرمختګ، اداره او د قانون پلی کول. په دی کار سره دا کافی نه ده چې ګوريلايی جنګونه دی وشی، امريکايی قوماندانان لکه د محلی ولسوالانو په شان دي چې زياتره وختونه په غيری نظامی کارونو عبث تيروی.
د هيواد د ودانولو لپاره د امريکا اردو بايد دری شيان په نظر کی ونيسی:

- د خلکو ژغورل
- خلکو ته پيسی ورکول او د پروژو په لاره اچول چې د وطن پالنی روحيه تقويه کړی.
- د خلکو او حکومتی مأمورينو سره د اړيکو وصلول.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**د خلکو ساتنه:** د خلکو ساتنه ډیروزیاتو عسکرو ته اړتیا لری، دلته د اوه زرو (۷۰۰۰) څخه زیات دپښتنو کلي شته چی ګزمی او پیری پکی په لاره اچول کیږی، په ۲۰۰۸ کال کی متحده ایالاتو د سړیو د نشتوالی له امله دا کار ونشو کړی. هغه ګزمي چی په دوه یا دریو ورځو کی د یو کلی څخه تیریږی نشی کولی چی د خلکو ژوند تآمین کړی او حتی که د پښتنو ساتنه هم وشی دوي به د طالبانو په باره کی د معلوماتو ورکولو او یا هم افغان اردو ته په جلبولو کی ټکني وي.

په دی باره کی چی کوم ځانګړی دلیل لکه د عراقیانو د ژغورلو تخنیک د بحث مؤضوع ګرځول شویده، دلته(افغانستان کی) هیڅ کار نه کوی.د عراق د سنیانو قبیلي د مراتبو ځانګړی سلسلي (ردي) لری چی په دی اساس قوی قبیلی د امریکایانو تر څنګ ودریدلی دا ځکه چی دوي دا باور دلورد چی امریکایان به ګټونکي وي،خو په افغانستان کی پښتني قبیلي د مراتبو دا سلسلي ډیري لږي مراعاتوی او تر یو حده بیطرفه پاتی کیږی او دیته ګوری چی څوک به ګټونکی وی.

**پیسی ورکول.** ائیتلاف په بیلونونو پیسي په پروژو باندی په دي منظور لګولي دي چی قبایلی پرګني به د حکومت سره یوځای شی، ددی کار په ترسره کولوسره د امریکایی ځواکونو شعار "ډالر او یا مړدکی یعنی مرمی" په معنی دی. د عسکری قطعاتو او لواګانو قوماندانانو په میلونو ډالر د بخشش په توګه لګولي دي.

په ځواب کی باید وویل شی چی د افغان لوړ رتبه مامورینو څخه نیولی تر ټیټی رتبی پوری ټولو پیسي غبن کړيدي.لکه د امریکا د پخوانی ولسمشر لیندن جانسن شعار "د نیستئ پر ضد جګړه " خو اوس د هیواد ابادولو کار د مفتخواری په کلتوربانډی اوښتی دی. د خندا وړ خو لا داده چی د امریکا اعتدال ښوونکي (لیبرالان) د افغانستان د جنګ سره مخالف دي، دا ځکه چی د کورنی لګښت پیسي په بل پروګرام باندی په مصرف رسیږی، سره له دی چی محافظه کاره ډله په کور دننه ددغه پرګرام سره مخالف دي او د جنګ ملاتړ کوي. د کابل واکد اران او پښتنی قبیلی دواړه په دی روږدي دي چی یو شی مفت تر لاسه کړی او په مقابل کی یی هیڅ شی بیرته ورنکړی. افغانستان په نړئ کی دوهم نیستمن او دوهم د فساد نه ډک هیواد دی.

**د مرکزی حکومت سره د پرګنو (قبیلو) تړاو**

د امریکا په اردو کی هر یو کس ته د هغه د ښه کار کولو په وجه ترفیع ورکول کیږی نه د اړیکو او واسطو په اساس، خو په افغانستان کی ترفیع او تنخوا د وړتیا او لیاقت په اساس نه بلکه د خپلوئ او واسطی په اساس ورکول کیږی. حکومت د یو قانون په اساس د خلکو لیاقت او کفایت په نظر کی نه نیسی.ډیرو افغان مامورینو ته په ولسوالیو کی د ونیسه او مه پریږده په اساس دنده ورکړل شویده چی په دی کار سره د کلیوالو خلکو اړیکی د حکومت سره د شلیدلو په حالت کی دي.

په خلکوکی د ترهګرئ او د طالبانوپر ضد د تشویق روحیه غلطه ثابته شویده او ائیتلافی ځواکونه د هغو زرهاو کلیوالو خلکو چی خپلوان یی د طالبانو سره کار کوی د سر او مال ساتنه وکړی پاتی راغلي دي. پښتنو مشرانو د حکومت ځینی خدمات لکه د ښوونځیو او سړکونو جوړول قبول کړيدي خو عسکری خدمت ته خپل ځوانان نه تشویقوي. ددی قبایلو عادت لکه چی جنرال دیود پیټرییس ویلی دي (دامریکایی ځواکونو قوماندان په افغانستان کی) هغه کربوړو ته (یو ډول کربوړی دی چی یوه سترګه یی یو طرف ته اوپه عین حال کی یی بله سترګه بل طرف ته اوړی را اوړی) ورته دي یعنی ابن الوقته خلک (مطلب اشنا) چی یواځی د وخت تابع وی. په عوض ددی چی جنګ وګټل شی باید د عامو خلکو زړونو او فکرونو ته لار پیدا شی.

د نړیوال امنیت او پرمختګ د کمیټی لخوا په ۲۰۱۰ کال د اوړی په موسم کی په هلمند او کندهار کی په لویه پیمانه ټول پوښتنه تر سره شوی وه،دغو نیتجو داسی وښودله چی ټوله د شک او تردید نه ډکه او په خپل ذات کی تنګ نظره او خارجی ضد وه چی د امریکایانود ترهګرئ پر ضد د عملیاتو شعار "د خلکو امنیت او خدمت" یی د پوښتني لاندی راوست. هغو پوښتنو ته چی ځوابونه ویل شوی وو په سلو کی اویا (۷۰٪) خلکو د امریکایی ځواکونو عملیات د افغان اولس پر ضد یو عمل بللی دی. د امریکایی ځواکونو سره کار کول یی په سلو کی څلور اویا (۷٤٪) فیصده غلط کار بللی دی. په دغه دریو اولسولیو کی اکثریت خلک په دی آند (عقیده) وو چی د ناټو ځواکونه د عامو خلکو امنیت نه ساتی او نه هم اسلامی او افغانی عنعناتو او عقایدوته احترام لری.

پښتانه په دی جګړه کی خپل ځان د یو کتونکی په حیث احساسوی نه په جګړه کی د یو ونډه اخستونکی په څیر. ټولنپوهان په دی فکر کوی که چیری ناټو همدی عمل ته ادامه ورکړی نو دا جګړه بایلونکی ده، خو په دی اړه مونږ باید په خپل ځان ډیر فشار راوړو (چی جنګ) ونه بایلو. د کلتور، مذهب، ژبی او قبایلی دود او دستور لیریوالی (واټن) او حساسیتونه دومره ډیر دی چی زده کړه یی ګرانه ده او سړی ته د یوی پیالی چای د څکلو وخت هم نه ورکوی. په حقیقت کی د بلینونو ډالرو لګولو ځانګړتیا د پښتنو په منځ کی ددی وړتیا، امید او رواج پیدا کړیدي چی په مقابل کی یی دوي نه د طالبانو بد وایی او نه د هغوي په باره کی څه معلومات ورکوی او نه هم د پښتنو طالبانو په مقابل کی جنګیږی.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

وس زمونږ د ترهګرۍ ضد ازاد خیاله مفکرین په دوه اساساتو باور لری: امریکایان امنیت او خدمات برابروی، دایساف ځواکونه "د خلکو په خدمت او ډادمنتیا" بوخت دي چی پښتانه یی باید په مقابل کی افغان ملی اردو ته جلبیان ورکړی او د ترهرګرو په مقابل کی په فعاله او غیر فعاله توګه برخه واخلی. پښتنو تر اوسه پوری هیڅ نه دی کړي او د پښتنو لخوا تر اوسه پوری دغه ټولنیزو اساساتو ته کوم ځواب نه دی ورکړل شو ی، لا تر اوسه هم دوي (پښتانه) په دی ګروهه دي چی بیطرفه پاتی شي او په دی قناعت کوی چی جنګ به کوم لوری ګټی.

د نوبل د جایزی ګټونکی راجر میرسن(Roger Myerson) داسی ویلی وو: " یو حکومت هغه وخت قانونی بڼه لری چی هر کس په دی باوری وی چی د ملت ټول خلک ددی حکومت تابع دي... او په نتیجه کی ټول خلک هر چیری چی وي د هغی ډلګۍ سلطه یعنی حکومت کولو ته چی په جګړه کی یی د پام وړ بری تر لاسه کړی وی غاړه کښیږدی، دشمنان یی ووژنۍ او ملګري یی وژغورۍ حتی که ددغه ډلګۍ اشخاص د ځینو دودیزو قانونی نمایندګۍ د منلو څخه هم محروم وي".

طالبان په دی ښه پوه او باوري دي چی دوي ښه جنګیالي دي او په دی کار سره دوي خپل دشمنان وژلی او له منځه وړلی شي.

له بله طرفه د امریکا اردو د جنګ هغه مرکزیت چی تګلاره یی د دشمنانو غیر فعالول دي له لاسه ورکړیدی. د کلونو راهیسی د دفاع وزیر ګیټس او د سمندري ځواکونو قوماندان مولن په دی خبره ټینګار کړیدی چي " مونږ.لا د بریالیتوب مرحلی ته نه یو رسیدلي". او ددغه کار زیری لا تر اوسه پوری په ټپه ولاړ دی. ددی لپاره چی خطر له منځه یوړل شی لوړ رتبه مأمورین او حتی د کوچنیو قطعاتو عمله باید پخپلو ګزمو او خوځښتونو له سره کتنه وکړی. امریکایی عسکر ډیر لږ ترهګر ګوري او د متقابلی حملی په صورت کی ډیر د احتیاط څخه کار اخلی. (امریکایی ځواکونو) د عملیاتی لوا ګانو په مرکزونو کی یو وکیل مقرر کړیدی چی د راتلونکو بریدونود واقع کیدو حالت وڅیړی اود ائیتلاف هیڅ یو عسکر د یو ترهګر د نیولو اجازه نلری.

د نیولو او حملو راپورونه هره ورځ په کابل کي د مرکزی اردو د لویی قوماندانۍ څخه صادریږي. دا راپورونه د یو کوټلی معیار ښکارندوی کوی " امنیتی ځواک ډزي نه کوي او د تالاشۍ په ټول جریان کی د ښځو او ماشومانو ساتنه کوی". کله چی د جګړی قومانده د ځینومجبوریتونو له امله په وسلو د ډزو نه کولو خبرتیا ور کوی د جنګیالیو ذهنیت بلی خواته اړول کیږی.

تر هغه ځایه چی د "امنیت او خدمت" ارزش په نطر کی نیول کیږی د پوځی وظیفی له نقطی نظره چی د ترهګرۍ پر ضد مبارزه او ترهګرو ته ماتی ورکول دي خپل اهمیت له لاسه ورکوی. متحده ایالاتو تعهد کړیدی چی د ناټو ځواکونه د یو خپلواک حکومت لاندی چی کرزی یی یو بی باوره مشر دی خپلی دندي پر مخ بوځي. کرزی د افغان پوځ ټول ترفیعات پخپل لاس کی نیولی دي، سره ددی چی زمونږ عسکر جنګیږی او په دي پوهیږی چی کوم افغان عسکر ښه جنګیږی او کوم یی نه جنګیږی. زمونږ پوځیانو ته اجازه نشته چی ترهګر ونیسی او مونږ په دی هم نه پوهیږو چی کرزی په اخرکی د طالبانو سره څه ډول معامله کول غواړی.

امریکایان نشی کولی چی د (ترهګرو) د پټنځایونو د له منځه وړلو لپاره په پاکستان یرغل وکړی، او دا هم نشی کولی چی په افغانستان کی ددی لپاره پاتی شی چی تریو حده پښتنو له شکست ورکړی.

په تیرو لسو کلونو کی د خلکو امنیت او اولس جوړول لکه څنګه چی د امریکا ماموریت ناکامه شو دغسی دا کار هم بریالیتوب ته ونه رسید. ولسمشر اوباما ټینګار کړی وو چی د هغه "د اولس جوړونی او ترهګرۍ ضد" ستراتیژی پوره باوری شوی نه ده. تر اوسه زمونږ نیم ژواندی القاعده دشمن د پاکستان په حدودو کی پاتی دی دا ځکه چي زمونږ ځواکونه په افغانستان کی میشت دي. ویل کیږی چی د امریکایی ځواکونو لنډ مهاله وتل به په ٢٠١٤ کال کی تکمیل شی چی د هغي نتیجه به کورنیو جګړو ته لاره هواره او طالبان به دا جنګ وګټی، په دی کار سره به القاعده پیاوړي او د پاکستان زروی وسلو ته به لاسرسی پیدا کړی چی په دی سره به د امریکا اعتبار په نړۍ کی متزلزل کړی.

ښه نو اوس د عمل کومی تګلاري پاتي دي؟ دلته دوه بدیلونه موجود دي: مذاکرات کول او یا هم د افغان اردوجوړول.

ایا مذاکرت د حل لاره ده؟

(ولسمشر) کرزی داسی ښیی چی دا جنګ د امریکانو او طالبانو تر منځ دی. په افغان حکومت کی ځینی بیطرفه اشخاص موجود دي چی د حل په لټه کی دي. د ولسمشراوباما سپارښتنه داده "تر څوچی کولی شو د کرزی سره باید کار وکړو" بی له شکه چی کرزی هم خپلو مأمورینو ته همدغه شان لار ښونه کړیده. سره ددی چی مذاکرات د امریکایانو په خوښه د ځینو تعهداتو په اساس په لاره اچول شویدي ځکه چی ددی ویره شته چی کرزی دا خبري په نیمه لار کی پرینږدی.

په ٢٠١٠ کال کی جنرال پیټرئیس ویلی وو چی " ترهګرو ته به مرګ ژوبله اړوی اومشران به یی دیته مجبوروی چی خبرو ته غاړه کښیږدی". او دا یی هم ورزیاته کړه چی د ځانګړو ځواکونو د عملیاتو په صورت کی به دوي ته فوق العاده مرګ ژوبله واړول شی. له کلونو راهیسی پیټرئیس او نورو لوړ رتبه مأمورینوعسکری منظمو ځواکونو ته ویلی دي چی د عامه وګړو (ساتنی) ته پام واړوی او د دشمنانو په مقابل کی تر هغی وجنګیږی چی له منځه لاړ شی. که د


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوپراسیون ځانګړو ځواکونو یواځی په سلو کی اوه (۷٪) مذاکراتوته د راښکلو په منظور بریدونه کړي وو، نو د پوځ زیاتی برخی ته د خلکو د ساتنی دنده هم ورکړل شوی وه چی دغه کار په طالبانو باندی ډیر لږ تآثیر اچولی وو.
مونږ د خپلو جنګیالیو د کمزوری روحی د خطر سره مخامخ یو. دا ځانګړی حالت زمونږ د هوا څخه د ځمکی څارګیریز او جنګی قابلیت مونږ ته په ټینګه سره دا قوت راکوی چی په دشمن باندی غلبه حاصله کړو. د نسلونو راهیسی مونږ د جنګ تجربه کار رهبران لرلي دي خوزمونږ جنګیالي په شدید ډول تهاجمی معیارونواو عالی روحی ته ضرورت لری چی دا د هغو غوښتنو څخه ده چی دشمن ته ماتی ورکړی. په دفاعی حالت کی کښیناستل او په هغو سیمو کی چی حالت ارام وی ګزمي کول ښه طریقه نه ده. د طالبانو روحیه باید کمزوری او روحانیت یی تس نس کړل شی.
د جنګ په میدان کي مذاکراتو ته د غاړی ایښودلو څخه بله کومه لاره نشی کیدلی. خو په اوسنیو شرایطو کی مذاکرات نشی کولی چی د افغانستان څخه د وتلو لپاره د حل یوه معقوله لاره پیدا شی.

د وتلو کومه لاره شته؟
په افغانستان کی زمونږ د پوځیانو شتون او په جنګ کی د بوختیا هغه یواځیني قوی دلیلونه دي چی د پاکستان په خاوره کی زمونږ دالقاعده نیم ژواندي دشمنان پټ شوی دی. لکه چی مخکی مو وویل چی د افغانستان څخه د امریکایی ځواکونو وتل به کورنۍ جګړی ته لاره هواره کړی چی په نتیجه کی به یی طالبان ګټونکی وي.
نوپه دی صورت کی د یوبا ثباته افغانستان وروسته پرېښودل سره ددی چی زمونږ د ملی امنیت لپاره به د ډاد وړ نه وی ضروری دی، له بله طرفه مونږنه شو کولی چی هر کال د سلو (۱۰۰) بلیونو ډالرو لګښت قبول کړو هغه هم یواځی د مرستی په خاطر. مونږ هغه جنګ پر مخ بیایوچی زمونږ د بانک پیسي نوری مخ په ختمیدو دي. مونږ باید یوه نوی ستراتیژی په لاره واچواو په هوښیارۍ سره وجنګیږو چی د پانګی د کموالی او تنګ لاسۍ سره مخامخ نه شو.
هغه اضافی پیسي چی د خلکود امنیت اوبیا رغونی لپاره ځانګړي شویدي باید را کمی کړی شی چی دا کار به مونږ ته ګټه ورسوی. پښتون اولس د طالبان سره د مخالفت او مقابلی کولو څخه بیخی انکار کړیدی، بی باوره او دیکتاتور کرزی به د نورو څلورو کلونو لپاره په اداره کی پاتی وی چی د هیواد اولسواکۍ (دیموکراسۍ)کولو ته هیڅ پاملرنه نه کوی خو په مقابل کی زمونږ منظم عسکری ځواکونه تر خپله وسه هڅي او هاند کوی خو لاسته راوړني یی ډیري کمي دي.
سره ددی چی د افغان ځواکونو روحیه د طالبانو په مقابل کی ډیره کمزوری ده خو ددی جنګ فیصله باید د افغان ځواکونو او طالبانو تر منځ وی نه دا چی قومونه خپل لوري بدل را بدل کړي. لکه څنګه چی د ځانګړو ځواکونو مشر میټ ګولسټین ویلی دي " تر هغی چی د ائیتلاف ځواکونه د جنګ پیټی په غاړه وړلی شی افغان ځواکونه به هیڅکله دا وړتیا ونلری چی جنګ رهبری کړی". په ۲۰۱۰ کال کی چی د 'کندهار' د مارجی جنګ روان وو جګړن ګولسټین د افغان ځواکونو یو څلورسوه کسیز (۴۰۰) بلوک ته جنګی مشوري ورکولی خو ددغو ځانګړو ځواکونو په بلوک کی یواځی لس تنه بالغ واړه ضابطان موجود وو، دا یو ډیر کوچنی ټیم وو چی هیڅ جنګی وړتیا یی نه لرله. په اخر کی سمندری ځواکونود توپچی، انجنیرۍ او د انداخت ځانګړی امنیتی بلوک هغه د خپلی قوماندی لاندی راوست. په نتیجه کی یو عسکری صاحبمنصب پر ځای ددی چی یوټیم رهبری کړی د مشورتی ځواکونو د مشرۍ دنده په غاړه واخسته او دده ځواک ددی وړتیا لرله چی افغان بلوک پخپله د اجراآتو یو ښه اعتبار قایم کړ.
دغسی جوړښت د سیالۍ کولو جوګه او مستحق دی. په لمړی سرکی د امریکا د متحده ایالاتو د انتقالی دوری مآموریت باید د مشورتی ځواکونو یو سل کسیزه ډله جوړه کړی چی په دی کار سره به زمونږ عسکر د یو لک (۱۰۰،۰۰۰) څخه پنځوس زرو (۵۰،۰۰۰) ته راښکته شی. دا مشاورین به په جنګ کی د افغان ځواکونوسره یوځای وي،او د دوي د ترفیعاتو څخه به ملاتړ کوی. دا ټول بلوکونه به د دری ستورو جنرال پواسطه څارل کیږی دا ځکه چی دا به د امریکایانو د هڅو یو مرکزی نقطه وی.

که چیری دا جنګ د لږو پیسو په مقابل کی په دوامداره توګه سره روان وی نو د امریکا د عوامو ملاتړ به تر لاسه کړی او کنه نو دا جنګ به د وطن سره د مینی په اساس یو جنګ نه وی. په ۲۰۱۰ کال کی په عمومی ډول دا جنګ د لسو مهمو مشکلاتو په جمله کی نه حسابیده او نه هم په څرګند ډول لکه د عراق د جنګ په شان په رسنیو کی ددغه جنګ پر ضد کوم نشرات کیدل.
په ۲۰۰۵ کال کی سمندری هوایی ځواک د عراق په حدیثه ښار کی ښځي او ماشومان ووژل چی ددغی قتلونو د اثبات په باره کی بشپړی پلټني تر سره نه شوي. د حدیثی غمیزه په میاشتو د مطبوعاتو د سر ټکی وو دا ځکه چی ډیر مطبوعات او د امریکا کانګرس دا د جنګ دغمیزو یو مهم عامل پیژنده.
په ۲۰۱۰ کال کی د متحده ایالاتو یو څو عسکرو چی ملکی افغانان یی د ساعتیرۍ او سپورت په خاطر په بی هدفه توګه ووژل متهم وپیژندل شول خو دا پیښه د رسنیو او سیاستوالو لخوا د نظره وغورځول شوه. دد یموکراتانو لخوا چی په شورا کی اکثریت لری د جنګ ننګه وشوه خو په رسنیو کی سر سختو لیبرال مفسرینوپه دی خاطر چی داوباما څخه کرکه او هغه کمزوری کړی د جنګ پر ضد پارونکي حرکتونه پیل کړل.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که څه هم کورني سیاستونه د یووالی اود جنګ د دوام ملاتړ او سپاربښتنه کوی، او اوباما ددی ناآرامه جنګ په باره کی کومه پښیمانی نه ده ښودلی، اوباما وایی " زه دا 'جنګ' د لسو کلونو لپاره نه کوم، او نه د اوږدی مودی لپاره ملتونه جوړوم... مونږ یو پلان ته اړتیا لرو چی څنګه کولی شو د جګړی نه لاس واخلو".
مشاورینو ددغی جګړی څخه د لاس اخستلو لپاره ځینی لاری چاری برابری کړیدي، او دوي په دی هم کومه اندیښنه نه ده ښودلی چی ګنی ددوي عسکری قوماندانان او یا نور امریکایان په دی اړه کومه دلچسپی او یا لمړیتوبونه لري. د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په میاشت کی ما د یوی ډلی مشاورانو او خپل آندو(رضاکارانو) سره چی په دوهم ځل یی(افغانستان) ته سفر کړی وو خبري کولي، دوي ټولو دا نه غوښتل چی د جنګ میدان ته د دوهم ځل لپاره لاړ شي.
یو دلګی مشر وویل " که چیری (په جګړه) کی ګیر شم نه غواړم چی ځوک راپسی خفه شی، څه چی کول غواړم هغه باید وکړم، مونږ په دي ښه پوهیږو چی زمونږ څخه به ځیني عسکر بیرته راستانه نشي، راځۍ هغه څه چی دا بد بدبخته وظیفه ایجابوی هغه سرته ورسو!"
مشارورینو ددغه دلګی مشر احساسات وستایل. دغلته په اردو او سمندری پوځ کی ځیني زړه ور، سر ټمبه سړي شته چی په غم او خوشالۍ لکه ګرمی، ساړه، سربیرن زخم، کانګي ، د باروتو بد بوی، چاودني، د ټوپکونو کړچهاری، چیغي، انډیوالی او ملګرتیا کی یو بل په غیږ کی نیسی. دوي پوهیږي چی په دوي کی به داسی ځوک وي چی د بدن غړي به یی له لاسه ورکړي وي او یا به هم ټپی شوي وي. دوي د وطن پالنی او یا د عام اولس په خاطر نه جنګیږی. مونږ نه شو ویلی چی دوي ولی داسی سخت ژوند غوره کړی دی. دوي یو بل رنګه ډهول ته ګډیږی. دوي غواړي چی و جنګیږي او په دی کار کی ښه تجربه لری.

په تاریخی لحاظ به زمونږ جنګ په افغانستان کی ددی ښکارندوۍ وکړی چی زمونږ مشاورین د طالبانو څخه ډاریږی خو د افغان عسکرو په منځ کی وفاداران لری. دا جنګ باید په ډیر قوت سره پر مخ بیول شی. طالبان ډیر سر ټمبه او سر سخت جنګیالي دي. په اوسنی وخت کی دوي د جنګ عالی روحیه لری او کولی شی چی د افغانستان امنیتی ځواکونو ته ماتی ورکړی. د مشاورینو دنده دا ده چی د عسکرو او امنیتی ځواکونو په منځ کی د بریالیتوب روحیه تقویه کړی، چی دا پخپل ذات کی یواځی د وګړو د امنیت مسئله نه ده.
که د داسی اموراتو لپاره د امریکا کانګرس او یا ولسمشر آمر ورکړی نو د مشاورینو یو سازمان به جوړ شی . اردو داسی فکر کوی چی په راتلونکی وخت کی به دا جګړه یو غیر منظم جنګی حالت غوره کړی. په اوسنی حالت کی د اردو قطعات اود سمندري ځواکونو کنډکونه د منظمو جنګی ځواکونو په حیث لکه چی په دوهم نړیوال جنګ کی ووبه پخپل حالت باقی پاتی وی. دا دواړه قطعي (اردو او سمندری ځواک) ددی خدماتو څخه نا خوښه دي او وایی چي مونږ ولی د بل لپاره په جنګ اخته یو او د اهم نه غواړو چی اسلامګرایان مونږ ووژني. همدا راز سمندری او د اردو کارکوونکي باید د هغو غیر فعالومنظمو(احتیاطی) عسکروپه مقابل کی د تحسین نامو، انعامونو، تنخوا ګانواو رتبو په لوړیدو او د اوسیدلود امتیاز په لیکونو سره تشویق شي. د پورتنیو شیانو په نه ورکولو سره به دوي و نشي کولی چی خپلي وظیفي په ښه توګه پر مخ بوځی.
کله چی مونږ خپلو منظمو جنګی ځواکونو کی کموالی راولو او بیا یو مشورتی کار ټاکونکی ځواک جوړو، د یو ملت په توګه باید دیته ژمن (متعهد) واوسو که هر څومره وخت واخلی باید په افغانستان کی پا تی شو. علاوه پر دي د اوپراسیون (عملیاتو) ځانګړي ځواکونه باید اسلامګرا رهبران تعقیب کړي، همدا رازد رینجر ډوله جنګی چورلکو (هلیکوپترو) قطعات باید د پاکستان په سرحدی سیمو کی خپلو عملیاتو ته ادامه ورکړی. ددی ماموریت اصلی موخه باید د دښمنانو له منځه وړل او د عامه وګړو ساتل وی. د مشاورانو وظیفه داده چی افغان امنیتي ځواکونه جوړ او تقویه کړی تر څو لکه د طالبانو په شان سخت و جنګیږی چی دا کار به ډیر وخت واخلی. افغان ځواکونه په هغه وخت کی ښه جګړه کولی شي چی امریکایی ځواکونه ور سره یو ځای وي او د امریکایی ځواکونو څخه په غیر به افغان ځواکونه ډړی وړی شی.
په افغانستان کی د لسو کلنو لپاره زمونږ غلطی دا وه چی د نورو لپاره مو کار کوو او هیله مو دا وه چی په ګډه سره کلتور او مذهب د یو بل څخه جدا کړو. د هیواد د لویوالی او د قبایلی دودونو په اساس پاکستان په پراخه اندازه په ځای ددی چی د کابل د حکومت په ګټه د طالبانو مخالفت وکړی پښتنو ته په عنعنوی ډول پناه ورکوی چی د دوي دا پالیسۍ هیڅ پای نلری. د متحده ایالاتو اردو باید د هیواد جوړولو څخه لاس واخلی او دا کار د بهرنیو چارو وزارت ته چی هدف یی د ملکی خلکو ژغورل دي پریږدی. دا یو داسی کار ته ورته دی لکه چی مونږ پخپله په یو داسی شی پوری نښتي یو چی د خپلو جنګیالیو روحیه کمزوری کوو چی د بریالیتوب څرک یی نه لګیږی. اوس ددی وخت رارسیدلی دی چی د رهبرۍ سازمان ته قدرت انتقال شی چی په دی سره به افغان امنیتی ځواک پیاوړی او د اسلامګرا یانو د کامیابۍ څخه به جلوګیری وکړی.
په افغانستان کی د ترهګرۍ پرضد جګړه یوه غلطه ستراتیژی وه، زمونږ عسکر سولی ساتی ځواک نه بلکه جګړیز ځواک دي، پریږدۍ چی وجنګیږی او طالبان وویروي".


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ژباړونکي نیوکه:
د ښاغلی بنګ ویسټ پورتنی لیکنه هیڅ په حقایقو ولاړه نه ده، ښاغلی بنګ پخپله لیکنه کی په ډیره سپین سترګی د حقایقو څخه سترګي پټي کړیدي. مثلاً د دوهمی پاڼی په دریم پاراګراف کی یی لیکلی دي چی "امریکا ولسمشر کرزی ته بشپړ واک ورکړ چی د پوځ ، پولیسو او ولایتونو والیان وټاکی...". د ښاغلی بنګ دا نظر په هیڅ ډول د منلو وړ نه دی ځکه کله چی کرزی د المان د بن په کنفرانس کی د ملګرو ملتونو، امریکایانو او ایرانیانو له خوا د مؤقتی ولسمشر په توګه وټاکل شو نو په کرزی باندی دا په زور ومنل شوه چی شمالی ټلوالی ته به په کابینه کی مهم پوستونه ورکوی لکه ډاکټر عبدالله عبدالله د بهرنیو چارو وزیر، قسیم فهیم د دفاع وزیر چی د امریکا د پخوانی دفاع وزیر رمسفلډ لخوا ورله په اعزازی ډول د مارشالی رتبه هم ورکړل شوه، د کورنیو چاروارسنی وزیر بسم الله محمدی لوی درستیز، یونس قانونی په لمړیو کی د کورنیو چارو بیا د ښوونی او روزنی وزیر او د تقلبی ټولټاکونو څخه وروسته د اولسی جرګي د رئیس په توګه، اسمعیل خان د اوبو او بریښنا وزیر، ایران پرست سید مخدوم رهین د اطلاعاتو او کلتور وزیر، کریم خلیلی د کرزی دوهم مرستیال، محمد محقق د پلان وزیر، د ملی خاین احمد شاه مسعود پنجشیری ورونه یو یی په لندن کی سفیر او بل یی د کرزی مرستیال او داسی نور. د ولایتونو د والیانوپه باره کی باید وویل شی چی کرزی دومره قدرت نلری چی د بلخ مطلق العنان او خپلسری والی عطا نور د ولایت د مقام څخه برطرف کړی. د والی عطا نور پخوانی سابقه ټولو ته معلومه ده خو اوس د بلخ ولایت یو بی تاجه پاچا دی چی نه یی د شرکتونو حساب څوک کولی شی، نه یی د ډالرو حساب چا سره شته او داسی نور.
ددی ترجمی په پنځم مخ کی ښاغلی بنګ لیکلی دي " د امریکا په اردو کی هر یو کس ته د هغه د ښه کار کولو په وجه ترفیع ورکول کیږی نه د اړیکو او واسطو په اساس، خو په افغانستان کی ترفیع او تنخوا د وړتیا او لیاقت په اساس نه بلکه د خپلوۍ او واسطی په اساس ورکول کیږی." ښاغلی بنګ ته باید وویل شی چی دا کار خو امریکا په افغانستان کی پخپله تر سره کړ یعنی د شمالی ټلوالی ډیریوران یی د مارشالۍ مقام ته ورسول دا ځکه چی د جمعیت اسلامی او د نظار شورا غړو د طالبانو د رژیم په پرځولو کی د امریکا د اویا (۷۰) میلونو ډالرو په مقابل کی د وزارتونو، والیانو، او سفارتونو مقاماتو ته ورسول شول.
همدا راز ښاغلی بنګ پخپله لیکنه کی څو ځایه لیکلی دي چی پښتانه د افغان حکومت او امریکایی ځواکونو سره مرسته نه کوی. د امریکا او ناټو ځواکونو عمومی قوماندان جنرال پیټرئیس خو پښتانه هغه کربوړی ته ورته ګڼلي دي چه یوه سترګه یی یو طرف ته او بله سترګه یی بل طرف ته ګوری یعنی پښتانه یی مطلب اشنا او ابن الوقته ښودلی دي. د ښاغلي بنګ او جنرال پیټرئیس نه باید پوښتنه وشی چي تاسو پښتنو ته څه ورکړي دي؟ پښتانه او پښتني سیمي همیشه د بمباریو لاندی دي، د هغوي کورونه شپه او ورځ د شمالی ټلوالی په غلطو او ناسمو راپوررونو تالاشی کیږی، ځوانان یی په دی نوم چی طالب دی او یا د طالبانو سره خواخوږی لری نیول کیږی او بیا په زندانونو کي د امریکا یی او شمالی ټلوالی د جاسوسانو لخوا په ډیره بیرحمۍ او غیر انسانی ډول شکنجه او وژل کیږی. د ودونو په مراسمو بمباري شویدي چی د ناویانو او زومانو په ګډون په سلهاو بیګناه ماشومان، ښځي، بوډاګان یعنی واړه او زاړه وژل شوی او ښادي په غم بدلی شویدي.

ښه نو پداسی شرایطو کی به کوم لیونی وی چی هم وژل کیږی او هم ور څخه د مرستی او همکارۍ توقع وشی. ددغو غمیزو راپوررونه په اخبارونو، رادیو ګانو، ټلي ویزونو او د نړۍ په ټولو رسنیو کی خپاره شویدي چی ګران هیوادوال کولی شی هغه په یو ټیوب کی وګوری. که څوک په یو ټیوب کی د امریکایانو او شمالی ټلوالی دغه بیرحمه ویډیو ګاني وګوري او یو لږ څه انسانی عواطف او سالم وجدان ولری نو ویلی شم غوني به یی زیګ شي او تر ډیره وخته به نا آرامه او حتی د ډوډۍ خوړلو توان به ونلری.
زه نور څه ویل نه غواړم، که تاسو د ښاغلی بنګ پورتنی لیکنه په غور سره ولولۍ نو بیا پخپله قضاوت وکړۍ. د لوی، ازاد، سرلوړی او پټمن افغانستان په هیله.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ